# په افغانستان کې د قضائیه قوې خپلواکي

## حقوقي چوکاټ او د عمل په ډګر کې ننګونې

شعیب تیموری

کب ۱۳۹۹

د ارزونې لنډ راپور

د افغانستان
دڅېړنې او
ارزونې اداره

AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

ژباړه: احسان الله ځیرک

د خپروني کوډ ۲۱۰۲ پ

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۲۸۲

کوم نظریات چی په دغه راپور کی وړاندی شوی په لیکوال پوری اړه لری او د کومی اداری، ټولنی یا فرد او یا هم د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری د نظریاتو منعکس کونکی نه دی.

© ۱۳۹۹ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شي.

که چیری دغه خپرونه بیا چاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څیړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالي ټولني له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څیړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څیړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څیړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څیړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څیړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری له څیړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څیړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې اداري جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې اداري مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), Institute for Integrated Transitions (IFIT), UN Women and Save the Children.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

## د موضوعاتو لیکلړ

سریزه ........ ۴
لنډیز ........ ۵
تګلاره(میتودولوژي) ........ ۶
اړینې موندنې: ........ ۶
۱. په تقنیني برخه کې د قضایي خپلواکۍ درېیو اړینو اړخونو په رسمیت پېژندل. .... ۶
۲. قضایي خپلواکي په عمل کې ........ ۷
۳. نور اړین ملاحظات ........ ۸
۴. پایلې او سپارښتنې ........ ۹

## سریزه

د قواوو له جلاوالي په برخمن دولت کې، خپلواکي د قضائیه قوې اساسي ځانګړتیا ده. یوه خپلواکه قضائیه قوه سیاسي نظام ته اعتبار وربښي ترڅنګ یې د ډیموکراسۍ پلي کیدل او قانون حاکمیت ته لاره هواروي.[۱] نن ورځ زیاترو ډیموکراتیکو اساسي قوانینو په خپل متن کې د قضائیه قوې د خپلواکۍ عمده عناصرو ته ځای ورکړی دی.[۲] او سمهال په نړۍ کې د قضائیه قوې خپلواکي د یادې قوې په یوه پېژندونکي نښه بدله شوې ده.

د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجلس پرېکړه لیکونو، د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې او د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق په ګډون ګڼ شمېر نړیوالو اسنادو د قضائیه قوې پر خپلواکۍ ټینګار کړی دی.[۳] پردې سربېره، ګڼ شمېر په رسمیت پېژندل شویو نړیوالو اسنادو د قضایي خپلواکۍ حداقل معیارونه او لارښود اصول په ډاګه کړي دي، چې پر درېیو اړخونو: د قضائیه قوې اداري خپلواکۍ، د قاضیانو فردي خپلواکۍ او د قضائیه قوې په داخل کې له نااړین نفوذ د قاضیانو پر خپلواکۍ یې ډېر تمرکز دی.

دا لنډکۍ بحث هغه شته حقوقي چوکاټ ته کتنه کوي، چې په افغانستان کې د قضائیه قوې خپلواکي تضمینوي او پر هغو دلایلو بحث کوي، چې له دې ځانګړنې ګټه اخېستل یې کمزوري کړي او د دولت نورو دوو قواوو په پرتلې یې قضائیه قوې ته یو کمزوری مقام ورکړی دی. د دې ترڅنګ دا مقاله په هېواد کې د قضایي خپلواکۍ د پیاوړتیا په موخه یو لړ سپارښتنې هم وړاندې کوي.

---

۱ د قضايي سلوک اړوند د بنګلور اصولو تشریح، د ملګرو ملتونو سازمان د نشه يي توکو او جرمونو دفتر، ۲۰۰۷ز کال سپټمبر. https://www.unodc.org/documents/nigeria/publications/Otherpublications/Commentry_on_the_Bangalore_principles_of_Judicial_Conduct.pdf. iv.

۲ James Melton and Tom Ginsburg, "Does De Jure Judicial Independence Really Matter? A Reevaluation of Explanations for Judicial Independence," Coase-Sandor Institute for Law &Economics Working Paper, no. ۲۱۲ (۲۰۱۴): ۱۸۷–۲۱۷. ۱۸۸.

۳ د قضائیه قوې خپلواکۍ په اړه د سیمه ییزو هېوادونو لارو چارو تفصیلیي لېست لپاره د قاضیانو او مدافع وکیلانو د خپلواکۍ په اړه د ځانګړي راپورتر د راپور **۵** تر **۷** صفحې وګورئ، چې په لاندې تړوني کې موجود دی: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/G۱۹/۱۱۸/۲۸/PDF/G۱۹۱۱۸۲۸.pdf?OpenElement.

## لنډيز

په افغانستان کې د قضائيه قوې خپلواکي ډېر لنډ تاريخ لري. کله ناکله د قاضيانو فردي خپلواکۍ ته، چې په اسلامي ثقافت او کلتور کې هم تاييد شوې ده، درناوی شوی. مګر د قضائيه قوې اداري خپلواکي يوازې په ۱۹۶۴زېږديز کال کې په رسميت پېژندل شوې ده. له دې وروسته ډېر ژر او يوازې د ۱۹۸۷زېږديز کال اساسي قانون په استثناء، چې يوازې د کاغذ پرمخ يې قضائيه قوه يوه خپلواکه قوه ګڼلې وه، نور د قضائيه قوې خپلواکي د هر هغه رژيم له لوري مردوده ګڼل شوې، چې د چارو واګې يې په لاس کې اخيستې دي. د قانون حاکميت نه شتون په پايله کې داسې وضعيت رامنځ ته شوی، چې حکومت د قضائيه قوې خپلواکۍ ته په کې هېڅ جدي پاملرنه نه ده کړې. کله ناکله قضائيه قوه د مخالفو ډلو د ځپلو لپاره هم کارول شوې ده او د اتباعو د بشري حقونو په خونديتوب کې پاتې راغلې ده.

د ۲۰۰۴زېږديز کال اساسي قانون هڅه کړې ده، څو قضائيه قوې ته له بهرني نفوذ د خونديتوب په ورکړې سره دې کلتور ته د پای ټکی کېږدي. مګر د اساسي قانون له تصويب د ۱۲ کلونو په تېرېدو سره بيا هم قضائيه قوه د اوسني اساسي قانون له مخې د رامنځ ته شوي نظم يوې کمزورې قوې په توګه پاتې شوې ده.

د ۲۰۰۴زېږديز کال اساسي قانون د قضايي خپلواکۍ اړين اړخونه بيان کړي دي او د قاضيانو ګمارنې او عزل، دندې خونديتوب، مناسب تنخوا او په يو شمېر ټاکلو فعاليتونو کې د برخې اخيستنې محدوديت په څېر مسائل په ځان کې رانغاړي. دغه راز ياد قانون په قضايي چارو کې د تقنيني مسودو په چمتو کولو او د قضائيه قوې د بودجې پلې کيدو کې د سترې محکمې برخه اخيستل تضمينوي. پردې سربېره، د قضائيه قوې د جوړښتونو او واکونو قانون د محاکمو او قاضيانو د خپلواکۍ پياوړتيا په موخه نور معيارونه هم ورزيات کړي دي. يوازې پر قانون مستند دلايل وړاندې کول، د ګمارلو او عزلولو مناسب ميکانيزمونه، د دندې اوږدمهاله خونديتوب، هغو قضيو ته د يو قاضي له لاسرسي منع کول، چې د ګټو ټکر په کې شته دي، له سياسي او سوداګريزو چارو پرمخ وړلو د قاضيانو منع کول او د مناسبې تنخوا له ترلاسه کولو ډاډ، هغه څه دي، چې د قاضيانو خپلواکي تضمينوي او دا ټول موارد د افغانستان په قوانينو کې تسجيل شوي دي. د دې ترڅنګ ټول شکلي قوانين د قاضيانو بې پرېتوب خوندي کولو لپاره يو شمېر ځانګړي معيارونه او قواعد لري. د ځينو چارو په استثناء لکه د ولسمشر له لوري د سترې محکمې عالي شورا د غړو او رئيس ګمارل، د قضايي خپلواکۍ په اړه د افغانستان قوانينو او په اړه د نړيوالو لارښودونو پرتله په ډاګه کوي، چې د افغانستان حقوقي نظام د قضائيه قوې خپلواکۍ لپاره اړين معيارونه وضع کړي دي.

مګر د قضائيه قوې د خپلواکۍ په وړاندې تر ټولو عمده خنډ په عملي ډګر کې د قوانينو پلي کيدل او په هېواد کې د خپلواکو ادارو فرهنګ نه شتون دی، چې د قضائيه قوې د خپلواکۍ زياتره عناصر خنثی يا تر پښنو لاندې کوي. د بېلګې په توګه په داسې حال کې چې اساسي قانون سترې محکمې ته د قضائيه قوې د بودجې د چمتو کيدو واک ورکړی، مګر په عمل کې د ماليې وزارت له لوري د قضائيه قوې مالي اړتياوو ته پام نه کېږي او د بودجې مسوده ملی شورا ته د تصويب لپاره تر استولو د مخه د کابينې له لوري کتل کېږي او تاييديږي. پردې سربېره، پر نورو قواوو له بهر او د ننه دواړو اړخونو څخه د قضائيه قوې د تکيې اوږدې مخينې داسې کلتور رامنځ ته کړی، چې سترې محکمې او نورو محکمو ته يې په بشپړې خپلواکۍ سره د چارو پرمخ وړل ستونزمن کړي دي. له خپلو مافوق قاضيانو د مادون يا ټيټو قاضيانو خپلواکي هم ډېره اړينه ده، ځکه ولايتي محکمې تر ډېره بريده پر ستره محکمه او د قضائيه قوې پر عمومي اداري آمريت متکي دي. د لوړپوړو قاضيانو او ماتحت محکمو د قاضيانو ترمنځ اړيکې د اجرائيه قوې په څېر پر سلسله مراتبو تړلې دي. د ارزونې يوې روښانه تګلارې يا د کړنو معيارونو په نه شتون کې، د قاضيانو د ګمارلو، تبديلۍ، ارتقاء، مکافافاتو او مجازاتو دغه راز امنيتي ساتونکو او نورو امتيازاتو ټول وړانديزونه يوازې د لوړپوړو قاضيانو او سترې محکمې رياستونو په واک کې دي، چې د ماتحت محاکمو د مجازات کولو احتمال رامنځ ته کوي. دا ډول مجازات ښايي د سترې محکمې لوړپوړو قاضيانو او مرکزي رياستونو له اوامرو د نه پيروۍ په صورت کې ناامنو ولايتونو ته د ماتحت محکمو د قاضيانو تبديلۍ لامل شي.

## تګلاره(میتودولوژي)

هغه میتود یا تګلاره چې د دې څېړنې لپاره کارول شوی، کتابتوني څېړنه او له اړینو اهل خبره خلکو سره مرکې دي. په دې څېړنیزه تګلاره کې د ښېلا ښېلو اساسي قوانینو، عادي قوانینو، کتابونو، مقالو، راپورونو، رسمي ناستو پرېکړو او د قضايي خپلواکۍ دغه راز اساسي قانون ښېلا ښېلو موادو لوستنه شامله ده. د دې ترڅنګ د قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو، پوهنتون استادانو، حکومتي چارواکو، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې کمیسیون پخوانیو غړو، څارونکو ادارو غړو، پارلمان غړو او حقوقي مبصرینو په ګډون له ګڼ شمېر خلکو سره مرکې هم شوي دي.

## اړینې موندنې:

# ۱. په تقنیني برخه کې د قضايي خپلواکۍ درېیو اړینو اړخونو په رسمیت پېژندل

### ۱.۱ اداري خپلواکي

اساسي قانون قضائیه قوه د دولت یوه خپلواکه او بېل رکنه قوې په توګه پېژني. د ولسمشر، وزیرانو، سترې محکمې غړو د ځانګړو محکمو او نظامي محکمو په استثناء د قضائیه قوې له قضاوت کولو پرته د هر ډول شخړې هوارول ناقانونه کار دی.[۴] د دې ترڅنګ ستره محکمه په بودجوي او مالي چارو کې هم تر یوه بریده خودمختاره ده. یاد ارګان د قضائیه قوې بودجه چمتو کوي او اجرائیه قوې ته یې په ملي بودجه کې د شاملولو په موخه لېږي. پردې سربېره د یادې بودجې د پلي کیدو صلاحیت هم د سترې محکمې دی. که څه هم ستره محکمه د قضائیه قوې په ګمارنو، عزلولو او د بشري سرچینو نورو برخو کې صلاحیت لري، مګر د قضائیه قوې اداري مامورین د ملکي خدمتونو کمیسیون له لوري ټاکل کېږي. پردې سربېره، قضائیه قوه کولای شي په قضايي سیمه کې قوانین تسوید او د اجرائیه قوې له لارې یې پارلمان ته د تصویب په موخه ولیږي.

### ۱.۲ فردي خپلواکي

د سترې محکمې د ټاکلو او تاییدۍ پروسه، چې د ولسمشر په وړاندیز او د ولسي جرګې په تایید ترسره کېږي، یوه ډیموکراتیکه مرحله ده. د دې ترڅنګ د ولسمشر له لوري د سترې محکمې رئیس ټاکل د قضائیه قوې له خپلواکۍ سره مرسته نه کوي. د سترې محکمې ۱۰ کلنه خدمتي دوره، چې بیا ځلې د تمدید وړ نه ده او د مرګ تر نېټې پورې[۵] د مالي امتیازاتو ترلاسه کول، بیا هغه څه دي، چې کولای شي د سترې محکمې د غړو خپلواکي تضمین کړي. د قضائیه قوې له خپلواکۍ د لا ډېر ډاډ ترلاسه کولو لپاره ولسي جرګه یوازې په هغه صورت کې کولای شي د دوی د ګوښه کولو پروسه پیل کړي، چې داسې جنحه یا جنایت ترسره کړي، چې د دوی د دندې مانع ګرځي.[۶] که څه هم دا ښه کار دی، چې د قاضیانو قضايي کمیسیون غړي د ولسمشر له لوري ټاکل کېږي، مګر دا کار د قاضیانو خپلواکۍ ته یو لوی ګواښ دی، ځکه تر هغې وروسته د لوړپوړو قاضیانو په انتصاب کې د ولسمشر ونډه پر دوی د ولسمشر د نفوذ لامل ګرځي، او دا چاره له اساسي قانون سره په ټکر کې لیدل کېږي. د قاضیانو له خپلواکۍ د ډاډ ترلاسه کولو لپاره د دوی پرېکړې باید تل پر قانوني مبنی او استناد ولاړې وي.[۷] پردې سربېره، قاضیان باید په هغو قضیو کې له قضاوت ډډه وکړي، چې د دوی بې طرفي تر پوښتنې لاندې راولي. د دې ترڅنګ، په داسې حال کې چې قاضیان د مخالفو نظریاتو له حق برخمن دي، د ارتقاء او نورو امتیازاتو په برخه کې پر ولسمشر د سترې محکمې د غړو تکیه په دې معنا ده، چې له مخالفې رایې ډېره کمه ګټه اخېستل کېږي. په وروستیو کې د قاضیانو مالي مکافاتو زیاتېدلو په قضائیه قوه کې د فساد پر راکمولو کې د پام وړ مثبت اغېز کړی، او په بدل کې یې د قاضیانو خپلواکي په لوړه کچه ډاډمنه او خوندي کړې ده.

---

۴ . د افغانستان اساسي قانون، رسمي جریده، ۸۱۸ ګڼه، ۱۲۲ ماده.

۵ . اساسي قانون، ۱۳۵ ماده.

۶ . اساسي قانون،

۷ . د قضائیه قوې د تشکیلاتو او واکونو قانون، رسمي جریده، ۱۱۰۹ ګڼه، ۲۰۱۳ز کال، ۱۲ او ۱۳مې مادې.

### ۱.۳ له خپلو سیالو او مافوق قاضیانو د نورو قاضیانو خپلواکي

د سترې محکمې پر غړو او ریاستونو د ماتحت محکمو د قاضیانو تکیه د دوی د پرېکړو په خپلواکۍ کې تر ټولو عمده ننګونه ده. په ډېرې خواشینۍ، د ماتحت محکمو قاضیانو او د قضائیه قوې لوړپوړو قاضیانو او سترې محکمې ریاستونو ترمنځ اړیکه د اجرائیه قوې د مراتبو لړۍ په څېر تنظیم شوې ده، او دا کار د قاضیانو خپلواکي هم کمزورې کوي. د اجراآتو د ارزونې مرحله هم بل هغه عامل دی، چې د ماتحت محکمو قاضیان دې ته اړ کوي څو له هغو قاضیانو پیېروي وکړي، چې د دوی په ارزونه، ارتقاء او تبدیلۍ کې ونډه لري. د زیاترو ولایتونو او ولسوالیو ناامنۍ ته په کتو، قاضیان د ناامنو ولایتونو ته د تبدیلۍ له وېرې بهرني نفوذ ته هم غاړه ږدي.

## ۲. قضایي خپلواکي په عمل کې

### ۲.۱ اجرائیه قوه او قضائیه قوه

د ۲۰۰۴ زیږدیز کال څخه که څه هم دا په وروستي کلونو کې عموماً کم شوي وخت پر وخت په قضایي چارو کې د اجرائیه قوې چارواکو مستقیم نفوذ او لاسوهنه شوې ده. د بېلګې په توګه په ۲۰۱۴زیږدیز کال کې اجرائیه قوې په پغمان کې د جنسي تېري تورنو د محاکمې پرمهال پر محکمو فشار راوړ او خپله ولسمشر له قاضي القضات وغوښتل څو تورن اشخاص په اعدام محکوم کړي.[۸] د دې ترڅنګ په قضایي چارو کې د ځایي چارواکو او والیانو د لاسوهنې په اړه هم راپورونه ورکړل شوي دي.

له دې ورهاخوا د قضائیه قوې پر مالي او اداري اړتیاوو او ګمارنو د اجرائیه قوې نامستقیم نفوذ له وجې پر قضائیه قوې د اجرائیه قوې له اغېز انکار نه شي کېدلای. که څه هم اساسي قانون د مالي او بودجوي چارو په برخه کې د قضائیه قوې خودمختاري په رسمیت پېژندلې ده، خو له قضائیه قوې سره د اجرائیه قوې بودجوي واحد په څېر چلند کېږي. د مناسبو او اړتیا وړ مالي منابعو ترلاسه کولو لپاره د سترې محکمې مشرتابه په ځلونو له اجرائیه قوې غوښتنه کړې ده او دا هغه چاره ده، چې د قضائیه قوې اداري خپلواکي کمزورې کوي. بله بېلګه یې په تېرو شپږو کلونو کې د قضائیه قوې عمومي اداري رئیس ګمارنه ده. د دې خالي بست لپاره باید یو کس د سترې محکمې له لوري وړاندیز او د ولسمشر له لوري منظور شي. د سترې محکمې رئیس یا قاضی القضات او د سترې محکمې دفتر رئیس دغه راز نورو لوړرتبه قاضیانو د بهرنیو سفرونو لپاره د ولسمشر حکم اخېستل بله جدي اندېښنه ده.

د دفاع وزرات تر سیوري لاندې د نظامي محکمو دوام هغه بله بېلګه ده، چې محکمې یې له قضایي خپلواکۍ برخمنې نه دي.

۸ Afghanistan: Gang Rape Trial Badly Flawed, Due Process Violations, Political Interference Undermine Justice," Human Rights" Watch, ۸ September ۲۰۱۴, https://www.hrw.org/news/۲۰۱۴/۰۹/۰۸/afghanistan-gang-rape-trial-badly-flawed.

### ۲.۲ مقننه او قضایه قوې

مقننه قوې تر ډېره بریده د قضائیه قوې خپلواکۍ ته درناوی کړی دی، له دې سره سره، په ۲۰۱۰زېږدیز کال کې د ولسي جرګې غړو د اساسي قانون خلاف د سترې محکمې غړو د استیضاح کار پیل کړ، خو بریالي نه شول.

په عادي قوانینو کې ګڼ شمېر قواعدو هم د قضائیه قوې او قاضیانو خپلواکي کمزورې کړې ده. له دې ډلې د قضائیه قوې د واکونو او تشکیلاتو قانون ته اشاره کولای شو. یاد قانون له قاضیانو غواړي چې د خپلو اجراآتو راپور د اجرائیه قوې مشر(ولسمشر) ته ورکړي، د دې ترڅنګ هر درې کلونه وروسته د لوړپوړو قاضیانو ګمارنې او تبدیلۍ په برخه کې ولسمشر ته د واک په ورکړې سره د دوی د کاري دورې په غځولو کې د ولسمشر لاسوهنې ته لاره هواروي او دا کار له اساسي قانون سره په ښکاره ټکر کې دی. پردې سربېره، د مالي چارو او عامه لګښتونو قانون د سترې محکمې بودجوي او مالي خودمختاري هغه ډول نه تضمینوي، څه ډول چې په اساسي قانون کې راغلې ده. د دې ترڅنګ د درې ګونو قواوو د چارواکو اخلاقي سلوک د قضائیه قوې له چارواکو غوښتنه کوي، چې د ولسي جرګې په غونډو کې ګډون وکړي او له دا سې ډول څرګندونو، اشارو یا اقداماتو ډډه وکړي، چې د اجرائیه قوې خپلواکي کمزورې کوي.[۹] له دې ورهاخوا، د ولسي جرګې داخلي دندو اصول داسې مېکانیزم لري، چې د ولسي جرګې[۱۰] غړو ته د سترې محکمې غړو د استجواب واک ورکوي او دا کار د قضائیه قوې خپلواکي کمزورې کوي او له اساسي قانون سره هم په ټکر کې دی.

## ۳. نور اړین ملاحظات

### ۳.۱ قضایي کتنه د قضائیه قوې خپلواکي کمزورې کوي

قضایي کتنه او د اساسي قانون تفسیر په افغانستان کې یو له بل سره په تناقض کې دي.[۱۱] د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده یوازې حکومت او محکمو ته دا واک ورکوي، چې له سترې محکمې د اساسي قانون تفسیر یا قضایي کتنې غوښتنه وکړي، او سترې محکمې، د یوې قضیې په استثناء چې غلې پاتې شوې ده، په نورو ټولو قضیو کې د حکومت یا اجرائیه قوې په ګټه پرېکړه او تفسیر کړی دی.[۱۲] محکمو هم له سترې محکمې د انتزاعي مسایلو په باب پوښتلي، چې ایا له اساسي قانون سره مطابقت لري او که نه؟ په پایله کې انګېرنه دا ده، او د عامو وګړو په سترګو کې یې د قضائیه قوې خپلواکي تر پوښتنې لاندې راوستې او کمزورې کړې ده.

### ۳.۲ قضایي خپلواکي او ځواب ویل

په افغانستان کې د قضائیه قوې ځواب ویلو او روڼتیا په تړاو تل اندېښنه راپورته شوې ده، او دا اندېښنه د محکمو د پرېکړو په خپرولو سره لا ډېره شدیده شوې ده.[۱۳] په قضائیه قوه کې د محرمیت پیاوړی کلتور[۱۴] په عامه افکارو کې د یادې قوې مشروعیت راټیټوي. ځواب ویل او روڼتیا له خپلواکۍ سره په ټکر کې نه دي.[۱۵] د فساد په نړیوال نوملړ کې د مفسدو هېوادونو په ډله کې د افغانستان له لوړې درجه بندۍ سره سره، په وروستیو کلونو کې په قضائیه قوه کې فساد تر ډېره راکم شوی دی.[۱۶] د قضائیه قوې د ولکې او مراقبت ریاست، چې په قضائیه قوه کې د فساد برخو ته د لاسرسي مسوولیت لري، په وروستیو کلونو کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړي او د قضائیه قوې هغه قاضیان، مستنطقین او نور کارکوونکي یې تر څارنې لاندې نیولي، چې په فساد کې ښکېل دي.[۱۷] تر کومه بریده، چې قضائیه قوه ځواب ویونکي وي، په هماغه اندازه د عامو خلکو باور هم پرې زیاتیږي.

---

۹ . د درې ګونو قواوو د چارواکو د اخلاقي سلوک تنظیم طرزالعمل، رسمي جریده، ۱۰۵۱ ګڼه(۲۰۱۱).

۱۰ . د ولسي جرګې داخلي دندو اصول. ۲۰۱۷. له ۱۰۹ تر ۱۱۱ مادې پورې.

۱۱ Shoaib Timory, "Judicial Review and Constitutional Interpretation in Afghanistan: A Case of Inconsistency," Loyola of Los Angeles International and Comparative Law Review ۴۲, no. ۲ (۲۰۱۹): ۲۲۳–۲۸۵, ۹۰.

۱۲ . په ۲۰۱۵ز کال کې د ۷ تنو وزیرانو تر استیضاح او نه باور رایې ورکړې وروسته اجرائیه قوې له سترې محکمې وغوښتل، چې پر یاده پرېکړه کتنه وکړي، چې ایا له اساسي قانون سره مطابقت لري او که نه؟ مګر سترې محکمې د یادې موضوع په اړه هېڅکله هم خپله پرېکړه اعلان نه کړه.

۱۳ . محمد موسی محمودي(د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون د دارلانشاء پخوانی رئیس)، پر لیکه خبرې اترې. ۲۰۲۰ز جنوري ۲ نېټه.

۱۴ . یما ترابي( د جمهوري ریاست د دفتر ریاست اړوند له فساد سره د مبارزې ځانګړي سکرتریت مشر)، پر لیکه خبرې اترې، ۲۰۲۰ز فبروري ۵مه نېټه.

۱۵ Vicki C. Jackson, "Judicial Independence: Structure, Context, Attitude," in Judicial Independence in Transition, Edited by Anja Seibert-Folhr (New York; Heidelberg: Springer, ۲۰۱۲)., "۷۱.

۱۲ . د افغانستان روڼتیا څار بنسټ ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ کلونو سروې ګانو پرتلنه، د افغانستان روڼتیا څار بنسټ (د ملي فساد سروې ۲۰۱۴)، کابل، ۲۰۱۴. https://iwaweb.org/wp-content/uploads/۲۰۱۲/۱۲/NCS-۲۰۱۴-English.pdf. ۴." او د افغانستان روڼتیا څار بنسټ (د ملي فساد سروې ۲۰۱۸)، کابل، ۲۰۱۸، https://iwaweb.org/wp-content/uploads/۲۰۱۴/۱۲/NCS__۲۰۱۸__WEB.pdf__English. ۲.

۱۷ . د قانون حاکمیت او فساد سره د مبارزې عالي شورا پرېکړې، ۲۰۱۹ اکتوبر ۱۳مه نېټه.

## ۳.۳ د خپلواکۍ کمزوري کلتور

افغانستان معمولاً د خپلواکو ادارو له ډېر کم کلتور برخمن ده او دا خبره د قضائیه قوې په اړه هم سمه ده. د هېواد په تاریخ کې پر نورو د متکي محکمو شتون د دا ډول کلتور د بدلون په لاره کې تر ټولو اړین خنډ دی. دا باور چې ولسمشر د اولی الامر او د دولت مشر په توګه پر قضائیه قوې هم مشري لري، د اجرائیه قوې په وړاندې د هر ډول مخالفې پرېکړې ترسره کولو مانع ګرځي. داسې ښکاري، چې د دولت په ولکه او تعادل کې د یوې خپلواکې ادارې په توګه د قضائیه قوې اړینه ونډه په بشپړه توګه نه ده درک شوې. اجرائیه قوې ته پر راپور ورکولو مکلفیت او په سیاسي فعالیتونو لکه د سولې په څېړنیزه کمېټه کې د قضائیه قوې لوړپوړو غړو ګډون د دا ډول کلتور ښکارندوینه کوي.

## ۳.۴ پر بشري حقونو د خپلواکۍ نه شتون اغېزې

په تاریخي لحاظ افغان محکمې په دې کې پاتې راغلي، چې په دوو جبهو کې د اتباعو بشري حقوق خوندي کړي. لومړی، له دغو محکمو څه له ۲۰۰۱زېږدیز کال د مخه رژیمونو پرمهال د بشري حقونو سرغړونو او جنایتونو په توجیه کې ګټه اخېستل شوې ده. دویم، دوی په دې کې پاتې راغلې دي، چې د اساسي قانون له مخې د وګړو په رسمیت پېژندل شوي اساسي حقوق خوندي او ساتنه یې وکړي. د ډیموکراتیک چاپېریال برعکس، چېرته چې محکمې خپلواکه دي او د بشري حقونو په خوندیتوب کې د باور وړ دي، په افغانستان کې یا محکمې د اتباعو اساسي حقوقو خوندیتوب په برخه کې له خپلې ونډې ډډه کوي یا دا چې ورسره بلدیت نه لري.

# ۴. پایلې او سپارښتنې

له ۲۰۰۴زېږدیز کال راوروسته حقوقي نظام له نړیوالو لارښوونو سره سم د قضائیه قوې خپلواکۍ او د قاضیانو فردي خپلواکۍ لپاره بې ساري اقدامات او معیارونه په پام کې نیولي دي. بدبختانه د افغانستان په قوانینو کې ځینې تسجیل شوي معیارونه یا نیمګړي دي یا هم په عمل کې ترې ګټه نه ده اخېستل شوې او دې کار پر اجرائیه قوې د قضائیه قوې له لا ډېرې تکیې سره مرسته کړې ده. د دا ډول تګلارو دوام د قضائیه قوې هغه واکونه او اختیارات خنثی کړي دي، چې اساسي قانون ورکړي او د یوې خپلواکې ادارې په توګه ده.

په قضائیه قوه کې د مراتبو لړۍ نظم هم پر ماتحت قاضیانو د لوړپوړو او ناظرو قاضیانو د اغېزو او نفوذ یو بل لوی لامل دی. دا کار په قضائیه قوه کې هغه پټه پدیده ده، چې قاضیان یې د مفعولي او محافظه کاره تګلاره غوره کولو ته اړ باسلي او قضائیه قوه یې په داسې ادارې بدله کړې، چې د اجرائیه قوې د تګلارو په څېر خپلې چارې پرمخ وړي. له دې کبله تر هغو چې د قاضیانو د اجراآتو ارزونې، تبدیلۍ او ارتقاء په اړه داخلي معیارونه اصلاح نه شي، ښایي قاضیان ونه شي کولای له خپلواکۍ په مثبت ډول ګټه پورته کړي.

د قضائیه قوې په څېر د خپلواکۍ په تمرین کې د خپلواکو ادارو پاتې راتلل په هېواد کې د خپلواکۍ کمزوري کلتور پایله ده. زیاتره قاضیان د هغه وخت ثمره ده، چې قضائیه قوې پر اجرائیه قوې تکیه لرله او د اجرائیه قوې چارواکو په وړاندې تعهد یوه قاعده وه. پردې سربېره، دولتي چارواکي او سیاسون تر ډېره په دې کې پاتې راغلي څو قضائیه قوې ته د دولت خپلواک رکن په توګه وګوري. د دې خبرې ښکاره ثبوت په رسمي ناستو کې د سترې محکمې غړو لپاره تشریفاتي تنظیمات یا هم د پارلمان له لوري د دوی د استیضاح هڅه ده. قضایي خپلواکي کلتور ته اړتیا لري او دا کلتور یوازې د قاضیانو له خوا نه شي رامنځ ته کېدای. د دولت هر رکن، حقوقي قشر، سیاستوال، رسنۍ او عام خلک هم باید د دې کلتور په رامنځ ته کولو کې برخه واخلي. دا اندېښنه یا وېره چې د قضائیه قوې بشپړه خپلواکي نه شي ولکه کېدی او له کومو محدودیت پرته شرعي قانون پلی کولای شي، کومه مشروع او پرځای اندېښنه نه ده. قضایي خپلواکي د قضایي فعالیت په معنا نه ده، احیاناً که دا ډول کار هم وشي، قضائیه قوه په خپلو پرېکړو کې د دولت پر قوانینو د لومړي درجې منبع په توګه پر استناد مکلفه شوې ده. د قواوو له جلاوالي په برخمن دولت کې خپلواکه قضائیه قوه له شک پرته د قانون حاکمیت پیاوړی کولای شي او د یوې مسوولې او ځواب ویونکې حکومتوالۍ په رامنځ ته کولو کې اړینه ونډه لوبولای شي.

د قضائیي خپلواکۍ پیاوړتیا په برخه کې لاندې اړین وړاندیزونه شوي دي:

## عمومي وړاندیزونه

- د قضائیه قوې له خپلواکۍ د ډاډ ترلاسه کولو او په سیاسي چارو کې د قضائیه قوې له لاسوهنې د مخنیوي په موخه قضایي کتنه او د اساسي قانون تفسیر دواړه بېرنیو او اوږدمهاله اصلاحاتو ته اړتیا لري.

- د لنډمهال لپاره لکه څه ډول چې د اساسي قانون غوښتنه ده، درې واړه قواوې باید په ګډه د یو داسې قانون پر مسوده کار وکړي، چې د اساسي قانون ۱۲۱ مې مادې د پلي کېدو څرنګوالی روښانه کوي. دا کار د قضایي کتنې او اساسي قانون د تفسیر ترمنځ د مطابقت په رامنځ ته کولو کې ونډه ولري. په اوږدمهال کې د یوې داسې محکمې رامنځ ته کول حل لاره کېدلای شي، چې قضایي کتنه وکړي او پراخ شمېر ونډه والو او وګړو ته د لاسرسي وړ وي.

- د قضائیه قوې تشریفاتي برخې ته باید هماغه ډول درناوی وشي، څه ډول چې په قانون کې تسجیل شوي دي. د تشریفاتو له پامه غورځول د قضائیه قوې باور کمزوری کولای شي.

- د قانون د پلي کېدو او تنفیذ هغه اداري چې د محکمو پرېکړې عملي کوي، باید د قانون حاکمیت عالي شورا ته د محکمو د پرېکړو عملي کېدو په تړاو منظم راپور ورکړي او هغه چارواکي باید په نښه شي، چې د محکمو د پرېکړو په پلي کېدو کې پاتې راځي. بل اقدام په قضائیه قوه کې د څارنې ریاست رامنځ ته کول دي، چې هغه چارواکي او اشخاص هم په نښه کولای شي، چې د محکمو پرېکړې نه پلي کوي.

- هغه قوانین او مقررات چې د قضائیه قوې خپلواکي کمزورې کوي یا د مراتبو لړۍ له مخې قضائیه قوه د اجرائیه قوې متابعت ته اړ کوي، باید په بېړني ډول اصلاح شي. د دې قوانینو او مقرراتو په ډله کې د قضائیه قوې د تشکیلاتو او واکونو قانون، د درې ګونو قواوو اخلاقي سلوک طرزالعمل، د ولسي جرګې د دندو داخلي اصول او د مالي چارو او عامه لګښتونو قانون راځي. پردې سربېره، قانون باید« د دندو اړوند جرایم « په روښانه ډول تعریف کړي او له جنایي جرایمو یا له دندې سره د نورو نامرتبطو جرایمو له کبله د سترې محکمې د غړو عدلي څارنې مرحله په ډاګه کړي. سربېره پر دې له تقاعد وروسته د تصدۍ دورې غځولو انتصابي تګلارې ته باید د پای ټکی کېښودل شي.

## قضائیه قوه

- پر قضائیه قوې د باور زیاتولو لپاره ستره محکمه باید د محکمو پرېکړو او قاضیانو دغه راز نورو مفسدو چارواکو په وړاندې د تادیبي اقداماتو په ګډون ځواب ورکړه رایجه او زیاته کړي.

- د پارلمان له غړو، لوړپو قاضیانو، مدافع وکیلانو ټولنو، پوهنتون استادان، اړوند حکومتي ادارو او مدني ټولنو باید یوه د ګمارنې شورا جوړه شي څو د سترې محکمې عالي شورا ته د قاضیانو ګمارلو او تبدیلۍ په برخه کې سپارښتنې وکړي. لکه څه ډول چې د اساسي قانون ۱۳۲ مه ماده صراحت لري، چې د ولسمشر واک باید یوازې د قضایي کمیسیون تر ټاکلو، د سترې محکمې عالي شورا قاضیانو تر ګوښه کولو او د قاضیانو تقاعد او استعفاء تر منظورولو پورې محدود شي.

- د دې لپاره چې د قضائیه قوې او قاضیانو له خپلواکۍ ډاډ ترلاسه شي او باور پرې وشي، د سترې محکمې رئیس یا قاضی القضات او غړي باید په هېڅ راز سیاسي مرحلو کې برخه وانخلي.

- د اجرائیه قوې عمومي اداري آمریت باید له نورو دوو قواوو سره د قضائیه قوې د همغږۍ او اړیکو ټینګښت سرلاری وي. په دې اړیکو او همغږۍ کې د کابینې په ناستو کې د اړتیا پرمهال ګډون او د قانون حاکمیت او نورو کمېټو په بحثونو کې برخه اخېستل راځي.

- ستره محکمه باید د قضائیه قوې د مراتبو لړۍ هغه نظم اصلاح کړي، چې ماتحت قاضیان پر لوړپوړو او مافوق قاضیانو له کوم دلیل پرته متکي ګرځوي. په همدې ډول باید د ټولنیزو رسنیو کارونې یا له رسنیو سره د مرکو ترسره کولو لپاره د لارښودونو چمتو کولو او له قضائیه قوې د باندې خپلو ټولنو جوړولو دغه راز په زده کړنیزو پروګرامونو کې د قاضیانو برخې اخېستنې سوکاله محدودیتونو له لارې د قاضیانو اساسي حقوقو ته درناوی وکړي.

- په قضائیه قوه کې د مدرسو فارغینو شمولیت باید په بشپړ ډول ودرېږي. دوره یي او د دندې په اوږدو کې روزنیز پروګرامونه باید په ډېر جدیت پیاوړي شي او په دې پروګرامونو کې د نورو اړینو موضوعاتو ترڅنګ د قضائیه قوې خپلواکۍ، قواوو جلاوالی، بشري حقونو، قضایي کتنې، د محکمو سم لاسرسی او ځواب ویلو موضوعات شامل شي.

- ستره محکمه باید د قاضیانو تر تقاعد وروسته په خپلسري ډول د هغوی د دورې تمدید ته د پای ټکی کېږدي.

- د قاضیانو او مدافع وکیلانو خپلواکۍ په تړاو د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړی راپور ورکوونکی رابلل کېدای شي، څو قضائیه قوه او لویه څارنوالي وارزوي او خپلې سپارښتنې له سترې محکمې او اجرائیه قوې سره شریکې کړي.

- د قضائیه قوې عمومي اداري آمریت په جدي ډول پیاوړتیا ته اړتیا لري. د یاد آمریت لپاره د اصلاحاتو یو داسې پراخ شموله پلان باید چمتو شي، چې د قضیو مدیریت، مالي او تدارکاتي چارو، پلان جوړولو، عمومي اداري ملاتړ، تفتیش، راپور ورکولو او عامه اړیکو په ګډون د اغېزناکې اداري ښېلا ښېل موضوعات په ځان کې راونغاړي. اجرائیه قوه هم باید د اصلاحاتو دغه پلان مالي تمویل ته لومړیتوب ورکړي. پردې سربېره، د قضائیه قوې عمومي اداري آمریت بست هر څومره ژر چې کېږي، باید ډک شي.

- د قاضیانو د اجراآتو ارزونې پروسه بیاکتنې ته اړتیا لري. له تبعیض د پاکې ارزونې څخه ډاډ ترلاسه کولو لپاره د قاضیانو د تبدیلۍ او ارتقاء لپاره باید معیارونه ډېر روښانه شي.

- په دفاع وزارت کې د قضیو مدیریت باید بدل شي. د خپلواکۍ تضمین په موخه باید د پولیسو او ملي امنیت عمومي ریاست عدلي څارنې ته ورته د قضائیه قوې تر چتر لاندې محکمې د ملي اردو غړو له لوري ترسره شویو جرایمو ته هم لاسرسی وکړي.

- ستره محکمه باید د شکایتونو ترلاسه کولو یو سیستم رامنځ ته کړي، چې د قضائیه قوې یوې تخصصي څانګې له لوري یې چارې پرمخ بوړل شي. د دې دفتر په رامنځ ته کولو سره، د سترې محکمې له رئیس سره د پارلمان غړو او نورو شکایت کوونکو دوامداره لیدنو ته د پای ټکی ایښودل کېدای شي.

**اجرائیه قوه**

- د سترې محکمې غړو د انتصاب پروسې باید له سیاسي پروسې په یوه ډېره تخنیکي پروسه بدله شي. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره سپارښتنه کېږي، چې د سترې محکمې د غړو واکونه دې په عادي قوانینو کې روښانه شي او له ښېلا ښېلو ذیدخل اړخونو باید ولسمشر ته د وړ نوماندانو د شارټ لېست وړاندیز کولو یوه تاکنیزه کمېټه جوړه شي، په دې توګه به ولسمشر له همدې لېست ولسي جرګې ته د سترې محکمې غړي ورپېژني.

- له قضائیه قوې ملاتړ باید د اجرائیه قوې لپاره په لومړیتوب بدل شي. د محکمو او قاضیانو د ساتنې لپاره باید په لوړ شمېر ساتونکي او امنیتي وګړي وګمارل شي. پردې سربېره، قضائیه قوې ته باید د ملي بودجې یوه ځانګړې سلنه ځانګړې شي، چې مالیې وزارت یا کابینه یې هم کمه نه شي کړای. که چېرې قضائیه قوه کوم وخت د یادې سلنې زیاتول غوښتل باید دلایل یې وړاندې کړي. د دې ترڅنګ له اړینو اداري اصلاحاتو وروسته باید قضائیه قوې ته په اداري او مالي چارو کې ډېرې واک ورکړل شي.

- د قضائیه قوې غړو د سفرونو لپاره د ولسمشر یا د نوموړي له دفتر د اجازې حکم اخېستل باید اصلاح شي او یوازې د سترې محکمې غړو د سفرونو تر خبر پورې محدود شي.

د افغانستان
دڅېړنې او
ارزونې اداره

AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولی
خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی (www.areu.
org.af) څخه تر لاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ
شوی کاپیانې هم موجودی دی.

تیلفون: +۹۳(۰)۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸
publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-68-6